
# د هلمند ولایت د رخامو ډېره





## د سیمې جیولوجي:

نظر هغو لمړنیو کتنو ته چې له نوموړو سیمو څخه سرته رسیدلې دي، په سیمه کې د ښنګ ډبرې له اسپیلیت او ریولیت څخه عبارت دي. د رخامو د طبقې اوږدوالی سویل - ختیځ او شمال - لویدیځ لوري ته دی. په ټوله کې، د هلمند ولایت رخام ګلابي، انګوري او شیدو ته ورته سپین رنګونه لري. د هلمند ولایت د رخامو د طبقو پنډوالی له (۲) تر (۱۵) مترو پورې بدلون مومي. د سیمې مورفولوجي هومره پیچلې نه بریښي، په ځینو نقطو کې د سیمې ریلیف په ډیر کم میلان سره تر سترګو کیږي چې په عمومي توګه یوه غیرې مرتفع لرونکې سیمه ده او په زیاترو برخو کې د څلورمې دورې رسوبات د رخام ډبرې دپاسه لیدل کیږي. د امریکا جیولوجیکي سروې د لمړي ټوک پر بنسټ په اربو، زولدک او مزدان کې هم د رخامو ډبره شتون لري. دلته د ډبرو عمر د لاندیني کوارترنری (Lower Quaternary)، ایوسین (Eocene) څخه تر الیګوسین (Oligocene) پورې دی.




## پراخوالی:

د تثبیت شویو سیمو مساحت د ($12km^2$) په شاوخوا کې دی.

## ټولنیز او چاپیریالي معلومات:

په نوموړو سیمو کې د اوسیدلو کورونه شتون نه لري او دا ډول ډبرې په یوه وچه ریګي سیمه کې منځته راغلي دي چې د اوبو جریان هم پکې نه تر سترګو کیږي.

## د زیربناوو په اړه معلومات:

په نوموړو سیمو کې هیڅ ډول عام المنفعه تأسیسات او زیربناء نه لیدل کیږي.


# رخام ولایت هلمند

## جیولوجی ساحه:

نظربه مشاهدات مقدماتی که از ساحات متذکره صورت گرفته است احجار مجاور در ساحه عبارت از اسپلیت و ریولیت بوده که امتداد طبقه رخام به سمت جنوب شرق و شمال غرب می‌باشد. در مجموع سنک رخام ولایت هلمند به رنگ های گلابی، انگوری، و سفید شیری می‌باشد. ضخامت طبقات رخام ولایت هلمند از (۵-۲) متر متغیر است. مورفولوجی ساحه مغلق نبوده در بعضی نقاط ریلیف منطقه با شیب کم دیده شده عموماً یک ساحه غیر مرتفع می‌باشد و در اکثر قسمت‌ها رسوبات چهارمی بشکل روپوش بالای سنگ رخام دیده می‌شود. به اساس کتاب جلد(۱) سروی جیولوجیکی امریکا در ساحات اربو، زولدک و مزدان سنگ رخام قرار دارد. عمر احجار از کوارترنری تحتانی (Lower Quaternary)، ایوسین (Eocene) الی الیگوسین (Oligocene) می باشد.








## مساحت:

مساحت ساحه تثبیت شده در حدود ۱۲کیلومترمربع می باشد.

## معلومات اجتماعی و محیط زیستی:

در این ساحات خانه های مسکونی وجود نداشته در یک ساحه خشک ریگی واقع شده و آب جاری به چشم نمی خورد.

## معلومات در مورد زیربناها:

دراین ساحات تاسیسات عام المنفعه و زیربنایی وجود ندارد.